مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهيم سپېڅلی

۲۰۲۶/۱۰/۱۴

# د پاڅون هیلی

## (د ماشومانو لپاره کیسه)

ؤ نه ؤ ، ډېر کلونه ترمخه د شنه غره په لمن کې یو ډېر ښایسته کلی ودان ؤ.
په دغه کلي کې د رنګارنګ میوو باغونه، ویالي،چینې او د کلي په منځ کې  تېره سوې اوږده لار،چې تر څنګ یې شني وني او په بغل کې یې د رنو اوبو ویالي بهېدې هرسهار او مازیګر به دکلي خلک وربانديې تلل او راتلل.
دکلي ټول خلک یو پر بل مهربان، دیواوبل په خوشحالیخوشحال او خدای مه کړه په غم یې غمجن وو.
د دغه کلي د ښایست اود اوسیدونکو د ښه راشه درشه کیسې د ګاونډیو کلیو تر څنګ ان تر ښاره پوري لاهم رسېدلې او خلکو به سمسور کلی بلی.
هرچا هیله درلوده،چې یو ګړی د دغه رنګین کلي د لوړ غره پر څوکه د ژړي مازیګر د طلایي پلوشو په ښایسته منظره زړه او فکر ته سکون ورکړي.
سمسور کلي په منځ کې نرۍ اوږدې غزېدلي لار ته څېرمه د پاڅون دوی کور ؤ.
د پاڅون پلار جان محمد کاکو خپل کور ته نژدې د انارو کوچنی باغ او یوه توره غوا هم درلوده.
توره غوا به تل د باغ په پای کې د وښو په خورک اود خپل ګیلګي سره په لوبو بوخته وه.
پاڅون د ښوونځي له لوست سره ترڅنګ په فارغ وخت کې د مور او پلار سره هم تر خپله مرسته کوله.
دده په زړه کې له ډېره وخته یې یوه خبره وه،خو پلار ته یې مخامخ نه سوه ویلای.
یوه ورځ د پاڅون مور پوښتنه څنې وکړه:( زویه خیر دی، دا څو ورځې کیږي،چې فکرجن معلومېږي، خدای دې خیر کړي مریض خو به نه یې؟)
پاڅون د مور په غاړه کې دواړه لاسونه ور واچول او په ناز یې ورته وویل:( مورا! زما ملګري احمد ته پلار داسي ښایسته هیلی راوړې ده، زه هم غوارم،چې بابا ماته دغسي ښایسته هیلی راوړي.)
مور،چې یې د ده دخواشینې په سبب پوه سوه، نو ژمنه یې ورسره وکړه، چې ډېر ژر به یې داهیله د پلار په مرسته ور پوره کړي.
پاڅون،چې سبا غرمه له ښوونځي څخه کورته راغلی، نابېره یې په انګړ کې یوه ښکلي هیلی ولیده،خپلې سترګي یې وموښلې،چې خوب خو به نه وینې، یو څو ګامه هیلی ته ورنژدې سو، هغه په رښتیا هیلی وه، فکر یې وکړ،چې دا به د احمد هیلی دلته راغلي وي، چې نورهم نژدې ورغلی، نو پوه سو داهغه هیلی نه ده، ځکه د دې هیلی غاړه تیزه زرغونه او د احمد هیلی دومره ښکلي نه ده.
پاڅون ډېر خوشحاله سو، د ښوونځي بسته یې په خونه کي کښېښوده او د خپلي ښایستي هیلی سره په لوبو اخته سو، دومره لوبې یې ورسره وکړې،چې بیخي ستړی سو، اخر یې مور ورته را ږغ کړه:( پاڅونه زویه یوار هیلی پرېږده، پلار ته دې د غرمي ډوډی ورووړه!!)
که څه هم د پاڅون زړه نه غوښت، خو دمور خبره یې نه سوای ماتولای او د غرمي له ډوډۍ سره د باغ خواته روان سو.
نن د پاڅون پلار خپل زوی په داسي حال کې ولیدی،چې خوله یې له خندا ډکه او په ګړندي ګامونو د پلار خواته ور روان دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پاڅون دهر کله په شان پلار ته سلام واچوی، لاسونه يې ور مچ کړل او په خوشحالۍ يې له پلاره مننه وکړه،چې ده ته يې ښکلې هيلۍ رانيولې ده.
پلار يې هم ډېر خوشحاله سو، په لستوڼي يې دتندي خولې پاکې کړې، پاڅون يې په غېږ کې ونيوی ورته يې وو:( د سترګو توره! ته چې زموږ هره خبره منې،ښوونځي ته پر وخت ځې،کورنی کار ليکې،غوښته وابښه ور اچوې، له مور سره شوخي نه کوې،له همزولو سره سمې لوبې کوې، مشرانو ته سلام اچوې، نو موږ هم ستا ناز منو او که خدای کول دوې مياشتې وروسته به ستا هيلۍ د ښايسته بچيانو مور سي.
ته به يې د لامبلو لپاره ويالې ته بيايې(.
له دې سره پاڅون نور هم خوشحاله سو، د پلار لاس يې ټينګ په غېږ کې ونيوی( ته زما ښه پلار يې!!)
له دې سره سم يې پلار دسترخوان هوار کړی او دواړو په خوند، خوند د غرمې ډوډۍ وخوړله.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ